SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارگان

څلورم کال څلور نوي بمه گـڼه پرله پسي (۲۸٤)چهارشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال رمضان المبارك (۷)د۱۳۷۸هـ ش کال د لندی دمباشتي(۲٤)د۱۹۹۹میلادي کال د دسمبر (۱۵)

مشکلات و پرابلم هاي مؤسسات و تصدي ها و پروژه هاي سمت شمال مورد ارزيابي قرار گرفت

مشکلات و پرابلم هاي مؤسسات تصديها و پروژه هاي سمت شمال در جلسه وسيعي مورد ارزيابي قرار گرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: در اين جلسه که تحت رياست محترم الحاج ملا عبدالسلام «ضعيف» معين وزارت معادن و صنايع و به اشتراك رؤساي تصدي کود و برق پنبه و روغن نباتي بلخ، نساجي بلخ، تفحص نفت و گاز شبرغان، افغان گاز شبرغان، ذغال سنگ شمال، نساجي پلخمري، سپين زر کندز، و ساير موسسات مربوط وزارت معادن و صنايع تدوير يافته بود محترم معين وزارت معادن و صنايع ضمن سخنراني در رابطه به ارتقاي سطح توليد فابريکات ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي!، همدا (عدل) ډير نږدې دى تقوا(پرهيزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

محترم مولوي عبدالحکيم مجاهد در مصاحبه با تلويزيون سي ان ان :

امارت اسلامي افغانستان هيچگاه براي همسايگان خويش مشکلات ايجاد نخواهد کرد

هـزاران تن از زنان افـغاني در بخش هـاي مـختلف مصروف خـدمت اند

مـا خـواهان قطـع کـشت، تـوليد و قـاچـاق مـواد مـخدر مي بـاشيم

سي ان ان: محترم مولوي عبدالحکيم مجاهد نماينده امارت اسلامي افغانستان در نيويارك طي مصاحبه با تلويزيون سي. ان. ان. اظهار داشته است که امارت اسلامي افغانستان هيچگاه در صدد اين نيست تا براي همسايگان خويش مشکلات ايجاد نمايد و با در برابر کشور هاي ديگر جهان کينه بدل راه دهد، متأسفانه که بعضي از کشور هاي جهان رويه نا مناسب را با امارت اسلامي افغانستان در پيش گرفته و از برسميت شناختن حکومت ص ٤

د دريمو مکروريانونو د ترافيکي جزيري د جوړولو کار جريان لري

شريعت: د دريمو مکروريانونو د ترافيکي جزيري په پاخه او اساسي توگه د جوړولو کار چي د کابل ښاروالي د ساختماني تصدي له خوا له عادي بودجي نه په گڼه اخيستو سره پيل شوي وه په سلو کي اتيا په مخ تللي او په ډير نږدي راتلونکي کي به په برياليتوب پاي ته ورسول شي.

دغه مطلب د کابل ښاروالي د ساختماني تصدي انجنير محترم عبدالغفور زموږ له خبريال سره د يوي مرکي په ترځ کي څرگند او ٤ مخ

د چيچن اتلو مجاهدينو د روسانو يو بل هليکوپتر رانسکور کړ

له چيچن څخه را رسيدلي خبرونه وايي چي دغه هيواد اتلو مجاهدينو پرون د روسي د برغلگرو ځواکونو دريم هليکوپتر راوغورځاوه دغه خبر له مـخي ددغي الوتکي د راغورځيدو له امله د الوتکي يو تن پيلوټ اسير او بل بي وژل شويدي.

د روسيي د برغلگرو پوځونو دغه هليکوپتر د هغي الوتکي د پيلوټ د ژغورني په مقصد الوتنه کړي وه چي پخوا گروزني ته نږدي د چيچني مجاهدينو لخوا راغورځول شوي وه. ٤ مخ

سلطه يك صد ساله ايالات متحده امريکا بر کانال پانامه پايان يافت

اسناد پايان سلطه حدود يك صد ساله ايالات متحده امريکا بر کانال پانامه ديروز در پايتخت اين کشور اخيراً اجرا ميشود و اين کانال به پانامه باز گردانيده ميشود.

با امضأ اين پيمان چند هزار نظامي ايالات متحده امريکا از منطقه کانال پانامه خارج ميشوند. ص ٤

د عامي روغتيا وزارت څلور لاري کي به ترافيکي غرفه ډير ژر گټي اخيستو ته تياره شي

شريعت: د عامي روغتيا په څلور لاري کـي د ترافيکي معلوماتو د يوي غرفي د جوړولو کار په بيړه سره روان دي دغه مطلب د ترافيکو دوهم نبولي د دوهم بلوك قوماندان محترم سر ٤ مخ

دستگاه کوره بخار دستگاه نساجي افغان پلخمري ترميم و مورد بهره برداري قرار گرفت

دستگاه کوره بخار مربوط دستگاه نساجي افغان پلخمري که از مدت ۹ سال به اينطرف غير فعال بوده اخيراً ترميم و مورد بهره برداري قرار گرفت.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت بغلان خبر داد: بالأثر سعي و تلاش کارمندان و کارگران فني دستگاه نساجي افغان پلخمر: دستگاه کوره بخار و پنجاه عدد ريديتر ص ٤

په روسيه کي يو قوي بم وچاوديد

د روسيي د پيښبو ضد وزارت ويندوي اعلام وکړ چي تيره شپه د روسيي په دويم ستر ښار سنت پتر بسبورگ کي د استوگني په يوه مرکز کي يو قوي بم وچاوديد. ٤ مخ

درمسابقات تورنمنت خزاني بغلان جديد :

تيم فوتبال استقلال و تيم واليبال اکرم زاده حايز مقام اول گرديدند

در تورنمنت خزاني مسابقات ورزشي تيم هاي فوتبال و واليبال ولايت بغلان تيم فوتبال استقلال بغلان جديد و تيم واليبال اکرم زاده حايز مقام اول گرديدند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت بغلان خبر داد: تورنمنت خزاني مسابقات ورزشي که ميان ۱۲ تيم فوتبال و ده تيم واليبال اخيراً از سوي آمريت ورزشي بغلان راه اندازي گرديده بود خاتمه يافته و تيم فوتبال استقلال بغلان جديد و تيم واليبال اکرم زاده حايز مقام اول گرديده و کپ اخلاق ورزشي نصيب تيم فوتبال افتخار ص ٤

مشکلات و پرابلم هاي محيطي مردم ولسوالي خاکجبار مورد بررسي قرار گرفت

مشکلات و پرابلم هاي محيطي مردم ولسوالي خاکجبار اخيراً طي جلسه بي مورد غور و بررسي قرار گرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: در اين جلسه محترم مولوي سردار آغا برهاني ولسوال خاکجبار ضمن سخنراني اهداف امارت اسلامي را که در پرتو شريعت غراي محمدي(ص) روز تا روز در حال گسترش ميباشد بيان داشت.

در اين جلسه در رابطه به حل مشکلات و پرابلم هاي مردم ولسوالي خاك جبار و بهبود ص ٤

په ايران کي کابو اوه زره محصلانو مظاهره وکړه

کابو اوه زره تنو ايراني محصلانو پرون د ايران د کورنيو چارو د پخواني وزير او ددغه هيواد د منع لاري سياست پوه عبدالله نوري د ازادولو لپاره د تهران پوهنتون په انگړ کي مظاهره وکړه. ص ٤

د تابليتو او مرهم جوړولو دوه ماشينونه مو بيا فعال او توليد ته چمتو کړل

د فارمسي چارو محترم فني او تجارتي مرستيال

شريعت: الحمد لله د طالبانو د تحريک په راتلو سره برسيره پر دې چي زموږ تصدی ته هيڅ مالي تاوان نه وه پاتی د مجربو فارمسستـ...ـد زياتي توجه په نتيجه کی د تابليت جوړولو او مرهم جوړولو دوه ماشينونه مو بيا فعال او گـتي اخيستو ته چمتو کړل چي اوس پنځه قلمه تابليت، دري قلمه مرهمونه او يو قلم د انتي سپتيک محلول يعني ديتول په کی جوړيږي. دغه څرگندونې د فارمسي چارو د رياست تجارتي او فني مرستيال محترم ملا محمد حنيف حنفي زموږ له خبريال سره په مرکه کی وړاندي کړي. محترم حنفي د خپلو خبرو په ترڅ کی زياته کړه چي: د درملو د تجزيي او کنترول مجهز لابراتوار چي بيخی ويجاړ او له کاره لويدلی وه، د عامي روغتيا د محترم وزير صاحب د خاصي توجه ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

با تطبيق عملي فيصله هاي اخير امارت اسلامي افغانستان :

انشاء الله مشکلات اقتصادي کشور مرفوع خواهد گرديد

امارت اسلامي افغانستان که بنا بر خواست ملت مجاهد افغان تحکيم يافته است همواره کوشا بوده تا مشکلات کشور و هموطنان عزيز را در همه ابعاد زندگي مرفوع ساخته و يك زندگي مرفه و سعادت مند براي افغانان وطندوست پي‌ريزي نمايد. در شرايط کنوني که بنا بر تعزيرات ظالمانه اقتصادي شوراي امنيت سازمان ملل متحد و حکومت ايالات متحده امريکا شرايط اقتصادي در کشور عزيز ما تا اندازه بی رقت بار گرديده و بعضي از هموطنان ما با ص ۲

په هند کي شپږ تنه راهبان په خوب ويده مړه شول

د هند په جنوب کي د استوگني د يو کور د ړنگيدو له امله شپږ تنه راهبان د خوب په حال کي ددغو ودانيو ترکنډوالو لاندي شول او ووژل شول.

ددغي وداني د نړيدو د علت په باره کي څه ندي ويل شوي.

په هند کي هر کال ۹۵ زره تنه ځان وژني

د هندي ځوانانو تر منځ د ځان وژني مخ په زياتيدونکي پيښي. په هند کي هر کال ۹۵ زره تنه خلك په ځان وژنه لاس پوري کوي چي څه د پاسه ٤٥ زره تنه يي له ديرش کلني نه ښکته عمر لري.

د ټولنيزو چارو پوه کار پوه په هندوستان کي ددغي احصايي په تائيدولو سره خبرداري ورکړيدي چي د ځوانانو تر منځ د ځان وژني اندازه له اندېښنو ډکه وده لري که چيري په دي باب اقدام ونه شي حالات به ٤ مخ

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ایکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
د بوی گڼی بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

بقیه سرمقاله

مشکلات اقتصادي ممکن روبرو گردند بمنظور رفع قبلي این مشکلات هفته قبل جلسه عالي و بلند پایه اراکین امارت اسلامي افغانستان به رهبري عالیقدر امیر المؤمنین در شهر کندهار دایر گردید در این جلسه که بر علاوه از وزراء و مسؤولین ادارات مهم و ذیربط امارت اسلامي عده اي از دانشمندان و کار دانان شعبات مختلفه اقتصادي اشتراك ورزیده بودند فیصله هاي بس مهمي در راه احیاء و فعالیت مجدد بنیاد هاي اقتصادي کشور به عمل آمده و انشاء الله با تطبیق عملي فیصله هاي نشست مذکور عنقریب مشکلات اقتصادي کشور عزیز و هموطنان رنجدیده ما مرفوع خواهد گردید.

اهمیت تدویر این شورا نه تنها اینکه در اتخاذ فیصله هاي مفید مناسب و به وقت آن است بلکه این نکته نیز خیلي قابل اهمیت مي باشد که الحمد لله ملت مجاهد افغان در مرحله کنوني از قیادت و حکومتي برخوردار است که مطابق ایجابات عصر و زمان مشکلات و نیازمندیهاي ملت و مملکت عزیز خویش را با دلسوزي کامل احساس ودرك نموده و در راه رفع آن کمر همت بسته و دست به اقدامات مي زند.

جنبه دیگر برتري این فیصله در همه جانبه بودن و ابعاد گسترده آن مي باشد، کشور ها و حکومات جهان معمولاً نشست هایي دارند و در رابطه به بهبود وضع شان تصامیمي اتخاذ مینمایند مگر تصامیم اخیر مقام رهبري امارت اسلامي افغانستان آنقدر فراگیر و گسترده بوده که انشاء الله زندگي ملت عزیز ما را یکسره بسوي رفاه و ترقي رهنمون خواهد کرد. فیصله هاي مذکور از عرصه هاي تجارت گرفته تا جوانب ازدیاد تولید و از تشویق و توسعه سرمایه گذاري گرفته تا ترویج و تصمیم صنایع خفیفه و ثقیله همه را در بر گرفته همچنان در عرصه زراعت و آبیاري فیصله هاي مذکور ضامن برپایي یك انقلاب عظیم در سطح رشد و تقویه بنیه اقتصادي کشور بوده و انشاء الله در مدت کم کشور عزیز ما از ناحیه محصولات زراعتي خود کفا گردیده و در جریان پنج سال ممکن قادر به صدور محصولات زراعتي به خارج از کشور گردد. صدور اجازه اعمار بند هاي برق و لغو انحصار امارتي در سکتور فوق بخش دیگر از ارجحیت هاي این فیصله ها مي باشد واضح است که کشور عزیز ما منابع وافر آبهاي طبیعي وموقعیت هاي مناسب براي اعمار فابریکات و مراکز تولید برق در کشور را دارا بوده و با استفاده علمي و مناسب از آن انشاء الله نه تنها اینکه نیازمندیهاي تنویر، تسخین و فعالیت فابریکات کشور را کفایت خواهد نمود بلکه کشور عزیز ما را در زمره تولید کنندگان مهم انرژي برقي محسوب نموده و از این راه نیز عواید زیادي به بیت المال کشور محول خواهد گردید. همچنان تعیین یك اداره واحد براي جمع آوري تمام عواید کشور در کسب عواید ملي ارزش مهم دیگر این فیصله ها مي باشد. لازم است تا با استفاده از شرایط فوق العاده و مناسب فعلي براي تجار و سرمایه گذاري ملي ما ، اصناف متذکره با اخلاص کامل در راه اعمار کشور عزیز شان سهیم گردیده و در لحظات مشکل فعلي ملت مظلوم خویش را در آغوش گیرند.

بر ادارات و مسؤولین محترم ارگانهاي امارتي است تا در راه تطبیق و تعمیل کامل و هرچه عاجلتر این فیصله نامه ها از هیچنوع سعي و تلاش دریغ نورزند و با کار و جدیت متداوم شان در اسرع وقت کشور عزیز را در عرصه اقتصادي و مالي نیز به خود متکي ساخته و شرایط ناگواري را که احتمال دارد در نتیجه تداوم تعزیرات اقتصادي بر کشور عزیز ما حاکم گردد، رفع نموده و بدینوسیله نام نیك و افتخار تاریخي را در لحظات حساس کنوني که منافع ملي و دیني کشور عزیز ما در معرض تجاوزات و دسایس دشمنان اسلام قرار گرفته، کمایي نموده و با خود کفایي افغانستان عزیزچشمان دشمنان اسلام و افغانستان را با خاك یأس کور سازند.

پر خبر باندی خبر

په خبرونو کی راغلی چی جنرال دوستم او جنرال مالک بلخاب او تخار ته راغلی ، په خبر کی دا هم څرگنده شوی چی دوی تش لاس او په بشپه نیت نه دی راغلی بلکی له ځانونو سره یی درنی وسلی، پوځی مهمات او په زرگونو جنگیالی هم راوړی چی د ژمی له یخنی نه په گټه پورته کولو سره د اسلامی امارت پر خلاف د نویو جگړو لسی ژیغرانده کړی شی.

په خبر کی دغه مطلب تکی په تکی څرگند شوی دی چی دوی دواړه له درنو وسلو، پوځی مهماتو او جنگیالیو سره راغلی دی، دلته دغه خبره د لمر په څیر څرگنده ده له نژدی دوو کلونو راهیسی جنرال دوستم او جنرال مالک له افغانستان څخه شړل شوی او دغه ټوله موده یی په بهر کی تیره کړی ده. تر کومه چی موږ ته معلومه ده جنرال عبدالملک په متحده ایالتونو او دوستم په ترکیه کی وو، پوښتنه دا ده چی دوی څه ور له دغو هیوادونو افغانستان ته راغلل؟ ددغی پوښتنی ځواب د اکیدای شی چی جنرال عبدالملک له وسلو، مهماتو او جنگیالیو سره له امریکی نه راغلی بلکی راوستل شوی یا رالیږل شوی دی.

بدی توگه متحده ایالات به خپله د افغانستان په کورنیو چارو او هلته د جگړو د اور بلولو تر مسوولیت لاندی راځی - که خبره داسی وی نو سری په څرگنده ویلای شی چی دغه جنرال ته متحده ایالاتو وسلی، پوځی مهمات او جنگیالیان برابر کړی که داسی نه وی نو دی څه ډول له امریکی نه تر افغانستانه راورسید، وسلی، پوځی مهمات او جنگیالیان یی له کومه کړل او څه ړول یی هغه افغانستان ته راواړول.

که جنرال مالک ته په متحده ایالتونو کی پناه ورکړل شوی وی بیا نو یی دغه دراندہ امکانات له کومه کړل چی په هغو سره له امریکی نه تخار ته ورسیږی او هلته د جگړی تیر ووهی او د سیمی امنیت او سوله ایز ژوند له گواښ سره مخامخ کړی.

له دی څرگندیږی چی جنرالان رالیږل شوی ،وظیفه ورکړل شوی او امکانات ورته برابر شوی چی په سیمه کی گډوډی او بد امنی را منځ ته کړی،

که نه نو جنرال مالک نشوای کولای له متحده ایالتونو څخه تر تخاره اوږده لار له دومره وسلو، مهماتو او جنگیالیو سره لنډه کړی.

که داسی وی و د جنرالانو دغه هڅه پ افغانستان د تیری اندول گڼل کیږی چی متحده ایالات بایی په دی اړه خپل دریځ څرگند کړی.

سره له دی چی جنرال مالک د لیلی او حیرتان دښتو د ټولو ژنو پره په غاړه لری چی ددغو وژنو له امله بایی تر قانونی څارنی او پوښتنی لاندی نیول شوی وای خو امریکی هغه ته ددغو درنو تورونو او جرمونو سره سره بیا هم پخپله خاوره کی د استوگنی حق ورکړی نه یوازی دغه دی او سیدو حق بلکی له درنو وسلو، پوځی مهماتو او زرگونو جنگیالیو د برابرولو او تر تخاره د رسولو تر حق !!!او امتیازه پوری.

موږ پوهیږو چی واشنگټن او انقری په دغه جنرالان دومره نازدانه اموخته کړی وی چی ساړه ژمی کی به د هیواد په غرونو او کمرونو ونشی کولای د جگړو ستونزو ته اوږه ورکړی.

که هر څو دوی وسلی، پوځی مهمات او جنگیالیان ورته برابر کړی، خو د هغوی مزاجونه اوس د افغانستان د غرو او سنگرونو نه دی ځکه خو سړی ویلی شی چی دغه جنرالان که هر چا را لیږلی وی فکر نه کیږی چی خپل نولس پری شل او یا خپلی ووی پری شری کړی .

پټې پاڼې

شهرت ننگیال

وی نو دی څه ډول له امریکی نه تر افغانستانه راورسید، وسلی، پوځی مهمات او جنگیالیان یی له کومه کړل او څه ړل یی هغه افغانستان ته راواړول.

متحده ایالتونو څخه تر تخاره اوږده لار له دومره وسلو، مهماتو او جنگیالیو سره لنډه کړی.

کرونولوژی

۵

د افغانستان د سیاسی او ټولنیزی گډوډی علتونه

له ۱۳۳۲ نه تر ۱۳۷٤ هـ ش پوری

صلاح الدین «ابراهیم خیل»

د ۱۳۵۸ کال د مرغومی په ٦ مه ببرک کارمل، د شوروی روسیی له یو ملیون زیات هوایی او ځمکنی په درنی وسلی سمبال سور پوځ په ملا تړ تاشکند د افغانستان شمالی پولی نه راغی د پوځ دغه شمیر ته وروسته گرباچوف د سایبریا په یو میټنگ کی داسی گوته ونیوه چی په افغانستان کی اصلاً د شوروی محدود پوځ تعداد یو میلیون افرادو ته رسیده خو پوځ د ببرک کارمل ته د مه شپه په شپه خان کابل ته راورساو او په حفیظ الله امین او امینیانو د شپی ته محمد داسی تورغوبل جوړ کړ چی ددوی پلوی تو لاشونه یی هم چا ونه لیدل . ببرک کارمل د دغی شپی په جگړه کی چی ډزو یی د کابل ښاریان په سر اخستی و خپلی تمهیدی مخکی له مخکی جوړی شوی خبری کابل راډیو ته د روسیی له تاشکند راډیو نه ریلی کولی که څه هم د امین او امینیانو د ځپلو او له منځه وړلو د ډاډینی وروسته یی صبا وختی کابل ته راورساو خو دا خبره ټولو ته ښکاره وه چی تیره شپه یی د روسیی له تاشکند نه خبری کولی.

باید پټه پاتی نشی چی د کابل او شاوخوا مومن ولس په کابل کی د سره پوځ ټانکونه او پلټنی ونشوی زغملی په تش لاس، کوتک، تورو چړو یی سباوختی په هغوی عمومی هجوم اورش ورووړ . که څه په دغه له شهامت ډک برید کی د هغو زیات وکم پنځه زره تنو د شهادت جام نوش کړ خو روسانو ته یی وښوده چی افغان مومن ولس هیڅکله هم د دوی قبضه، سلطه یا غلامی نشی منلای، دوی باید افغانانو ته د تاجکستان، تاکشند، ازبکستان او نورو مسلمانانو خیال ونکړی او دا مومنان په هغه تله ونه تلی چی هغوی یی تللی دی.

افغانانو له شوروی روس سره په هیواد کی دننه چه له پده مرغه یو ناڅاپه راننوتل او د ټول هیواد سمه، غرونه په پوځ او ټانکونو احاطه کړ، په تش لاس مقابله سمه ونه بلله، نو په هجرت یی لاس پوری کړ، په سره ژمی کی د سختو کړاونو په زغملو د غرور غوله لا رومخ په دوست اسلامی هیواد پاکستان

ورکړ شول. افغانستا... پاکستان کی ... سره یوځای ... اسلامی دینی علماء ... امر د شوروی روس او د هغه لاسپوڅو په خلاف د جهاد اعلان وکړ او د ایمان په زور په ډیره ساده زره وسله په جهاد لاس پوری کړ .

د اسلامی ملکو په تیره د عربی هیوادو سر ښندونکو غازیانو د الحاد په خلاف له افغان مجاهد ولس سره د جهاد د حقانیت او ازغیر گ کړ خو امریکا او هغو هیوادونو چی تودو اوبو ته د روسیی له ورکوزیدو سخت په ویره کی و هغوی سره لدی چی د روس په خلاف یی د افغان ولس د ناروسورو پلوی کاو مگر عملاً یی په دی لاره کی مثبت گام اوچت نه کړ امریکا لکه وزرماتی قیچر له شوروی روسیی لری لری. گرځیده خو چه په افغانستان مجاهد ولس یی د روسیی د لومړی کال پر له پسی هوایی او ځمکنی خورا بیرحمه بریدونه او په هغو کی د ودانیو او کروندو ویجاړیدل، ورانیدل، د انسانانو بی دریغه، بی شمیره مرگ ژوبله او بیا هم د دوی ورځ په ورځ زیاتیدونکی ټینگار او نه تسلیمیدل وکتل او ددغه راز پولادی عزم او همت د تداوم په وړاندی یی د روسیی د غرور او د باور ټینبدل ولیدل نو له کوگل وتلی زره یی پیرته راغی او یو کال پس یی په افغان مجاهد ولس د مرستی غږ وکړ. په ۱۳٦٥ کال چی ببرک کارمل پخپله پنځه کلنه مزدوره دوره کی د ملیتونو پرگنو تر منځ د (ژبی، مذهبی، قومی) تضادونو راپارولو او یو له بله جنگولو له لاری په خپلو شومو او ناوړه هدفونو بریالی نه شو او د مجاهدینو د جهادی مینی په یو والی کی په درز اچولو ونه توانید . او شوروی روسی بادران یی سخت مایوس شول هغه یی د رژیم له مخکښی او مشری لری کړ ، مسکو ته یی واستاو په ځای یی ډیر هوښیار، څیرک د KGB (نجیب مزدور) د خاد وزیر کښیناو هغه ته یی د سکاټ اورده ویشتونکی واتن مدرن وسله او د پخلاینی « آشتی ملی » غولونکی جال طرحه په لاس ورکړه.

نجیب د مجاهدینو په مورچو او سنگرونو د سکاټ په استعمالولو له یوی خوا او د ملی پخلاینی د جال په غوړولو له بلی خوا د روسانو په گمان بنه وځلید . لکه چی شوارد نازی د شوروی روسیی د وخت د مشری باندینی چارو وزیر د اکتوبر ۱۹ کمونستی انقلاب په نمانځنه کی د ستر کاچی یی په حیث د نجیب ډیره ستاینه وکړه او هغه یی د کمونست کا چی یی غوره څیره وبلله.

گرباچف شوروی مشر د چرنوبیل د اتومی بتی د چاودنی له غمه ډکی اقتصادی ویجاړتیا نه په پاملرنه او په افغانستان کی په خپل هوډ د نه بریالیتوب په باور دا غوره وگڼله چی په روسیه کی له لیننستی سیاست او اقتصادی چلند سره مخه ښه وکړی او د خپل ملک د اقتصادی ښیگڼو لپاره په هیواد کی لویدیزی د موکراسی نیالگی کښینوی.

گرباچوف د امریکا جمهور رئیس ریگن سره د افغانستان په باب هر راز روغی جوړی ته غاړه کیښوده په ژنیو کی د امریکا او روسیی مشرانو تر منځ په ۱۳٦٦ کال په دغه برخه کی خبری وشوی چی د پریکړی غټ ټکی یی بو له افغانستان نه په دوه پړاوو کی روسی ته د سره پوځ ستنیدل بله د امریکا له خوا افغان مجاهدینو ته وسلو لیږدولو بندول. د باخبرو منابعو په قول به روسیه د افغانستان په بیا رغونه کی په سلو کی اتیا برخه ځلی. خو د غرامت په نامه نه بلکه د ښه گاونډی توب په نوم، په افغانستان کی به د څینو تنظیمونو ظاهر شاه مخلوع پاچا ، نجیب په مشری مختلط « لبنان- ترکیه » دوله اسلامی دولت جوړیږی.

ویل کیږی په دغه جرگه کی د رژیم جهادی قوماندانانو په نمایندگی د سید احمد گیلانی ، احمد شاه مسعود ، نجیب، هم گډون درلود ، خو کله چی د ژنیو له جرگی وروسته د فرانسوی لوموند اخبار نماینده په روم کی له ظاهر شاه سره وکتل، ظاهر شاه وویل : څو چی مجاهدین پخپلو کی سره وانه چول شی او هغوی ددغی زیاتی او مدرنی وسلی زیرمی په خپلو کی د نښتو، مرگ ژوبلی، گوندی لاری له لاسه ونه باسی، ښه مټري او کمزوري نشي څما لپاره په افغانستان کي د پښی ځاي نشي پیدا کیدلای . ځکه پخوانی قومی آشنایان یا نشته یا خو د افغانستان په وروستیو پیښو کی سخت کمزوری شویدی . بل پلو د سلطنتی خاندان د وحدت جوړی بیخی شلیدلی او څه نه دی پاتی. له نویو مسلمانانو او د جهاد په ویاړ مستو خوانانو سره څما روغه جوړه نشی راتلای او نه **هغوی له ماسره دغی روغی جوړی ته تیار دی. نو دا خبره په لنډ مهال چټگ او عاجل پلان کی عملی نه** بریښی، دی ته اوږد مهال پلان پکار دی.

ددغی مصاحبی متن د سویډن ستاکهولم راډیو ، د ایران د تودی گوند د یو غړی له خولی خپور کړیدی.» پاتي لري

قرآن او رمضان

ژباړه : فاروق

د حضرت پیغمبر علیه السلام نه په یو حدیث کی روایت شوی چی فرمایلی یی دی : « په تاسی کی ښه هغه دی چی قرآن زده کړی او نورو ته یی ور وښیی او د یو بل حدیث مفهوم داسی دی چی الله عزوجل په دی کتاب (قرآن مجید) سره څینی قومونه پورته کوی، په مخ یی بیایی او لورتیا ورکوی خو هغه خلک چی دا کتاب تر شا غورځوی نو په خواری او سر کوزی یی اخته کوی په دی ډول د قرآن مجید د فضایلو په هکله خو نور ډیر احادیث او روایات راغلی ، مگر هغه څه چی زمونږ د پاملرنی وړ دی په دغه موجوده پیړی کی د مسلمان امت دا بی شانه دربدری ، ذلت او له حده زیاته هر اړخیزه بدمرغی ده چی همدا نن ورسره لاس گیوان یو اوس مونږ د خپل پخوانی تاریخ نه بالکل نا خبره یو او هغو پخوانیو زمانو ته مو له څه پام هم نه وراوړی چاته معلومه ده چی یو وخت داسی هم و چی د بنو امیه لښکرو ترله هسپانیه تر خپل واک لاندی راوستلی وه او په بشپړ ډول د فرانسی په زړه کی ورننوتلی وو او بیا په یوه زمانه کی د ترکیو اسلامی لښکر ټوله ختیځه اروپا نیولی او د ایټالیا په دروازو کی ولاړ و. خو اوس هغه خبری نشته، مونږ مسلمانان د بی درکه لانجو سره مخ یو او هغه د یو حدیث د مفهوم سره سم لکه ووی چی د کاسی نه را تاو شی » همدغسی کافران په هر ځای کی د اسلامی نړی په یوه خوا کی په تیری لگیا دی.

د روانی پیړی د عصری مدرسو، کالجونو او پوهنتونونو په سطح علامه اقبال یوه داسی ستیه ده چی تر ننه یی ساری نه لیدل کیږی او په فکری ډگر کی بل څوک دده انډول نشته، په بل لور د دینی مدرسو، دارالعلوم او جوماتو څخه په وتلیو کسانو کی ددی پیړی ستر شخصیت حضرت شیخ الهند مولانا محمود حسن دی دا دواړه پردی خبره سره یو دی چی دا نن مونږ د کومه سزا راکول کیږی هغه د قرآن مجید نه د بی پروا کیدو له کبله را رسیږی کی. چی مولا نا محمود حسن د مالتا د زندان څخه را خوشی او هندوستان ته را ورسید نو په دیوبند دارالعلوم کی یوه لویه غونډه جوړه شوه، ده په غونډه کی وویل : مونږ د زندان په گوښه چاپیریال کی په دی خبره ښه ژوره څیړنه وکړه چی د اسلامی امت د موجوده بد مرغیو اصلی لامل به څه وی ؟ د اوږده فکر او غور نه راته څرگنده شوه چی ددی دوه علتونه دی، یو د قرآن څخه لری کیدل او بل د مسلمانانو خپل منځی اختلاف نو ځکه زه له هغه ځایه په دی هوډ راغلی یم چی پاتی عمر به په همدی لاره کی لگوم او دا هڅه به کوو چی قرآن په لفظی او معنوی ډول خپور کړای شی او بل دا چی د مسلمانانو یو والی به لټوو او داخلی جنجالونه او شخړی به په هیڅ ډول نه زغمو په دی لړ کی مولانا مفتی محمد شفیع صاحب ډیره په زړه پوری خبره کړی ده چی ویلی یی دی په اصل کی دا دوه خبری نه بلکه هماغه یوه خبره ده چی د قرآن مجید څخه غفلت کول دی او بس. ځکه د چی د مسلمانانو تر منځ په دومره اندازه کورنی شخړی روانی دی یوازنی سبب یی همدغه د قرآنی لارښوونو څخه ډډه کول دی او دا چی الله عزوجل مسلمانانو ته قرآن ورکړی او ددی امانت ساتنه، په غوښتنو یی عمل کول تاو نړی والو ته ددی کتاب پیغامونه رسول هم د مسلمان ذمه واری ده نو ځکه ددی امت معامله هم ځانگړی ده نو کــه د نړی نور قومونه د لوی خدای په وړاندی گیله وکړی چی دی خلکو خو نه په خپله په قرآن عمل کاو او نه یی مونږ ته رارساوه نو بیا به په هغه صورت کی مسلمانان د غبرگی سزاوړ نه وی ؟ له همدی ځایه ده چی کله مسلمانان و خپلو دغو مسوولیتونو ته ځیر نه شی نو په دنیا کی هم د خورا سختو بد مرغیو سره مخ کیږی او کله چی له یوی خوا دا دواړه علتونه په موجوده مسلمانانو کی په څرگند ډول لیدل کیږی او له بلی خوا د هر چا په خوله کی همدا یوه خبره ده چی مسلمانان دی سره یو شی، خو بنیاد او بنسټ یی معلوم نه دی چی په څه شی سره یو شی، په کومه خبره سره راټول شی ؟ په دی مو غور نه دی کړی چی قران مجید د مسلمانانو دیو والی او نښلولو لپاره یواځی او یواځی د الله تعالی د دین رسی تاکلی او غوره کړی ده او له همدی کبله له قرآنی لارښوونو پرته په بل شی د مسلمانانو راټولیدل امکان نه لری.

په اوسنیو حالاتو کی بس د همدغی خبری اړتیا ده چی مونږ باید د قرآن په لور هڅه وکړو، په قرآنی هدایاتو منگلی ولگوو او قرآنی زده کړی عامی او خپری کړو، زمونږ د لوړتیا او پرمختگ لپاره چی کومه ذریعه ده همدا قرآن دی او د همدی کتاب په واسطه مونږ د خواری او پریشانی څخه خلاصون موندلای شو.

له بلی خوا د قرآن او رمضان تر منځ چی کومی اړیکی دی، هغه هم له چا پټی نه دی ځکه چی قرآن مجید په همدی رمضان کی نازل شوی او ځکه په دی میاشت کی د قرآن ډیر تلاوت او ختمونه له زمانو راهیسی د مسلمانانو یو غوره عادت دی، همدارنگه د تراویح لمونځ هم د قرآن او رمضان تر منځ د تړاو یو ډیر ښه صورت او د هغه حدیث یو غوره مفهوم کیدای شی چی وایی : چا چی درمضان روژی د خدای د رضا او ثواب گټلو لپاره ونیولی نو خدای پاک به یی تیر گناهونه وبخښی او څوک چی په روژه کی قیام وکړی د خدای «ج» د رضا لپاره نو گناهونه به یی وبخښل شی. په دی هکله قیام او رمضان دواړه په مساوی ډول، ډیر په ښه انداز کی راغلی دی او همدغه تړاو په یو بل حدیث کی هم راغلی دی چی وایی رمضان به د الله تعالی په وړاندی عرض وکړی چی ای خدایه ادا بنده ما د خوراک او څښاک نه ایسار کړی و نو ته یی وبخښی او قرآن به وایی ای خدایه! دا بنده وبخښی ځکه چی ما د خوب نه ایسار کړی و نو دا دواړه به په یو شان او پر یو وخت د بنده سپارښت کوی نو له دغو روایاتو څخه په آسانی سره څرگندیږی چی قرآن او رمضان څومره سره نښتی دی ، لوی خدای«ج» دی مونږ ته د اوس راکړی چی د روژی دا مبارکی شپی د قرآن په ملگرتیا کی تیری کړو .

تأثیرات ناگوار تنباکو روی صحت انسان

وحید احمد هاروت

در اثر تحقیقات و مطالعات دوامدار دانشمندان این موضوع بیش از پیش هویدا گردیده است که سگرت کشیدن یکي از عوامل اساسي خرابي صحت است. خود اشخاص سگرت کش از این موضوع مطلع بوده و از کار خود نارضایتي نشان میدهند. آمار نشان میدهد که اشخاص سگرت کش نسبت به اشخاص غیر سگرتي کمتر عمر کرده و ۳۵٪ شان از بیماري هاي ناشي از دود نمودن تنباکو زندگي خود را از دست میدهند بر علاوه آنها نسبت به دیگران سه مرتبه بیشتر در معرض خطر مصابیت به سرطان قرار دارند علت اول و انکار نا پذیر سرطان ششها سگرت هست بر علاوه اینها شش مراتبه بیشتر به سرطان دهن ، حنجره، گلو و مري مصاب مي شوند امراض سیستم قلبي، تنفسي نیز نزد شان زیاد تر دیده شده اند، و هم امراضي چون قرحه معده ازدیاد فشار خون و بي خوابي را وخیمتر مي سازد.

اگرچه امرو از طریق اشتهارات و اعلانات پر زرق و برق تجارتي، شرکت هاي سگرت سازي ادعا مینمایند سگرتهایي را ساخته اند که مقدار بسیار کمي ماده اعتیاد آور نیکوتین را در خود دارد. اما مقدار نیکوتین اگر بر حسب ادعاي این شرکت هاي تجارتي کم هم باشد باز هم اعتیاد آور است. زیرا شخصي که معتاد به آن است براي گرفتن بیشتر آن تعداد بیشتر و بیشتر سگرت دود خواهد کرد.

یکتعداد افراد که عادت به سگرت دارند مي گویند بخاطر رفع تشویش و تسکین روحي از آن استفاده مینمایند. تعداد دیگر فکر میکنند با کشیدن سگرت انسانهاي اجتماعي خوش برخورد و به اصطلاح با کرکتر معرفي خواهند شد. اینها هر چه مي گویند به خود شان ارتباط دارد اما آنچه را داکتران در یافته اند این است که علت اصلي اعتیاد مردم به سگرت عبارت از موجودیت یك ماده قوي اعتیاد آور به نام (نیکوتین) در تنباکو هست. داکتران نظر میدهند پروسه که در طي آن شخص معتاد به نیکوتین میشود مشابه به همان پروسه اعتیاد به مواد نشه آور قوي مانند هیروئین و کوکائین است. همچنان معتادین سگرت در زمان بیماري باید مقدار هاي بلند تر ادویه را جهت شفایابي اخذ نمایند.

بعد از اینکه شخصي دود سگرت را انشاق میکند ماده نیکوتین که به مقدار فراوان در دود سگرت موجود هست به سرعت غشاي حجروي را عبور کرده داخل دوران خون میشود قلب در حدود ۱۵٪ این نیکوتین را به دماغ پمپ میکند و در آنجا جذب میشود، این پروسه در حدود (۷) ثانیه صورت میگیرد. وقتي که نیکوتین بر حجرات مغز اثر کرد این حجرات موادي بنام «کاتي کولامین آزاد میکند که در نتیجه آن تعداد ضربان قلب و فشار خون زیاد میشود به این ترتیب سگرت کش هاي معتاد باید بصورت دوامدار نیکوتین اخذ نمایند تا در خون جریان یافته و خود را به مغز برساند در صورتي که مقدار آن کم میشود و یا در اثر ترك سگرت بکلي قطع میشود در نزد این افراد یکسلسله اعراض و ناراحتي هایي بوجود خواهد آمد که بنام شکایات ناشي از ترك سگرت یاد میشوند.

البته اعراض فزیکي آن عبارتند از سردردي ، دلبدي، قبضیت و یا اسهال ، کم شدن تعداد ضربان قلب، سقوط فشار خون ، خستگي ، خواب آلودگي و یا بیخوابي. در جمله اعراض رواني آن میتوان از عدم توانایي در تمرکز فکري، عصبانیت، اضطراب، افسردگي و میل شدید به کشیدن سگرت نام برد. به همین سبب اشخاصي که تصمیم میگیرند سگرت را ترك کنند باید خاصیت اعتیاد آور نیکوتین را بیاد داشته و خود را به مشکلات و ناراحتي هاي فزیکي و رواني که بعد از ترك سگرت بوجود خواهد آمد آماده سازند ترك آن بدون شك ناخوشایند خواهد بود، اما زیاد مضر نیست ، البته هر معتاد بالآخره موفق به ترك آن شده میتواند.

بر علاوه نیکوتین در ترکیب دود سگرت دو ماده دیگر نیز وجود دارد گاز ها و قیر انواع مختلفه گازات مثل هایدروجن سیاناید نایتروجن و امونیا در ترکیب دود سگرت وجود دارند اما خطر ناکترین آنها کاربن‌- مونواکساید است این گاز نسبت به آکسیجن ۲۰۰ مراتبه میل ترکیبي زیاد تر با حجرات سرخ خون دارد. چون حجرات سرخ خون در حالت عادي وظیفه رسانیدن اکسیجن را به حجرات بدن دارند در این حال کاربن مونواکساید به عوض آکسیجن با کریوات سرخ ترکیب میشود پس از یکطرف نیکوتین تعداد ضربان قلب را بیشتر کرده و از طرفي دیگر کاربن مونو اکساید مانع توزیع ماده زندگي بخش یعني آکسیجن به بدن میشود در این حال است که سگرتي ها دچار نفس تنگي میشوند، بر علاوه کاربن مونواکساید بالاي قوه- رویت، شنوایي و قضاوت نیز تأثیر سؤدارد. تنبیه نیکوتین باعث آزاد شدن اسیدهاي‌چربي در خون شده و کاربن مونواکساید تراکم آنها را در شرائین افزایش داده رسوب این چربیها در شرائین خون باعث مرض (تصالب شرائین) گردیده که شریانها در طول خود سخت گردیده و قطر آن ها کوچك میشود در نتیجه میتواند باعث بروز حمله قلبي، سکته مغزي و دیگر بیماریهاي قلبي شود.

سگرت کشیدن از جمله سه علت قابل کنترول حمله قلبي بشمار میرود دو علت دیگر آن عبارت از فشار بلند خون و سویه بلند کلسترول خون است و این خطر با ازدیاد سگرت بیشتر میشود امراض قلبي وعایي علت اصلي مرگ و میر سگرت کش بشمار میرود. نیکوتین باعث تنگ شدن قطر رگهاي محیطي خون شده، در اثر آن جریان خون به دست ها و پا ها بتدریج کاهش یافته ، بعضاً باعث بي حسي میشود دود سگرت مقدار بیشتر ماده لزوجي و چسپنده بنام مخاط را در ششها تولید کرده و مژکها را بي حس میکند که در تمام طول راه هوایي تنفسي قرار داشته و مخاط و اجسام اجنبي را در گلو مانع میشود. زماني که شخص سگرت کش به خواب میرود ، مژکها به فعالیت آغاز کرده و سعي میکند اجسام ناپاك و مخاط را از ششها خارج نماید به همین سبب است که این چنین اشخاص با یك سرفه خشك از خواب بیدار میشوند دود سگرت سیستم انزایم هاي ریوي را که وظیفه شان پاك کردن ششها است، بر هم میزند بتدریج مخاط در ششها جمع شده و مژکها تخریب میشوند و زمینه براي مداخله و حمله انواع مکروبها مساعد میشود از همین سبب این افراد به مقابل ریزش، برانشیت مزمن و دیگر امراض تنفسي بسیار حساس مي شوند.

در حدود ٤۰۰۰ ماده کیمیاوي در قیر دود سگرت وجود دارد که یکمقدار شان به حیث ماده سرطان زا شناخته شده و تعداد دیگر هم به حیث کمك کننده به سرطان شناسایي شده اند رشد انساج سرطاني زماني آغاز میشود که قیر موجود در سگرت به نشو ونموي غیر طبیعي حجرات در دهن ، حنجره، مري و ششها کمك کند. این حوادث در مراحل اولیه آن با ترك سگرت قابل پیش گیري اند. دود سگرت خانم هاي حامله و جنین شانرا متضرر میسازد. وزن این اطفال نسبت به اطفال نارمل خیلي کم است. و این خانم ها در معرض خطر سقطها و ولادتهاي قبل از وقت نیز قرار دارند خطر مرگ اطفال این مادران در حدود ۵۰٪ است . سگرت کشها نه تنها به سلامتي خود ضرر میرساند بلکه امکان دارد دود سگرت بصورت غیر ارادي ذریعه افراد غیر سگرت کش انشاق شده و خطر امراضیرا که ذکر گردیده نزد شان بوجود آورد. یك تحقیق علمي که در جاپان صورت گرفته است نشان میدهد که میزان وقوعات سرطان ششها در خانم ها مربوط به تعدادي سگرتي بوده که شوهران شان روزمره دود میکردند به همین علت است که در یکتعداد کشور ها و از جمله کشور عزیز ما، کشیدن سگرت در محضر عام، دفاتر ، ملي بس، رستورانت ها و دیگر جاهاي پر ازدحام منع قرار داده شده است. البته لازم بیاد آوري است تا همرطنان عزیز ما موضوع فوق را جدي و مهم دانسته و از کشیدن سگرت در مجامع عمومي جداً اجتناب ورزند.

د تابليتو او مرهم جوړولو ...

په نتيجه کښې دغه لابراتوار بيا فعال او زموږ د هيواد د درملو د سوداګرو ټول توريدي او توليدي درمل تجزيه او کنترولوي.

دغه لابراتوار چې د بې کيفيتو درملو د مخ نيوي په خاطر يو مهم لابراتوار دی هيواد والو ته داډ ورکوي چې هيڅکله بې کيفيته درملو ته د توزيع اجازه نه ورکوي. زموږ هغه شمير درملتونو ته چې په دغه موده کښې وبجاړ او غير فعال شوي وه څيني يې بيا فعال او د هيواد والو پر مخ پرانستل شوي دي.

اوس په کابل کښې د درملو ۱٤ ډيپوګانې او يوه عمده فروشي فعال لرو. په ننګرهار کښې د درملو ٤ ډيپو او يوه عمده فروشي فعالي لرو. د شمال په زن کښې د درملو ۲٤ ډيپو او يوه عمده فروشي فعالي لرو. د هيواد په نورو ولاياتو کښې لکه غزني، هلمند، هرات او نيمروز کښې د درملو شپږ ډيپوګاني بيا فعالي او د استفادې وړ ګرځيدلي دي.

په دغه تصدی کښې ۳٦٤ کسان په اداري، تجارتي او توليدي برخو کښې په کار لګيا دي. د عامې روغتيا د محترم وزير صاحب په لارښوونه موږ وکولای شوای چې د سيروم جوړولو يوه دستګاه د قندهار د عامې روغتيا په رياست کښې فعاله کړو چې اوس د استفادی وړ ده د WHO موسسه ۲۰٪ زموږ د تجزيې او کنترول لابراتوار د ضرورت وړ اجنتونه اکمالوي چې ورڅخه مننه کوو.

سږ کال موږ طرح لرله چې د ORS ماشين چې ډير کم مصارف لري زموږ سره د WHO موسسه او يا د يونيسف موسسه مرسته وکړي چې د اوړي په موسم کې په کافي اندازه ORS توليد کړو خو متاسفانه زموږ سره هيڅ مرسته ونشوه.

د راتلونکي کال لپاره موږ طرح لرو که چيري دغه دوه خيريه موسسې له موږ سره مالي مرسته وکړي نو موږ به د ORS کپسول او د شربت جوړولو ماشينونه بيا فعال او د استفادې وړ وګرځوو.

امارت اسلامي افغانستان هيچگاه براي همسايگان ...

قانوني ملت افغان چشم پوشي مينمايد.

محترم مجاهد افزودند: امارت اسلامي افغانستان خواهان قطع کشت، توليد و ترانسپورت مواد مخدر بوده اگر ملل متحد و کشور هاي متمول جهان همکاري نمايند ما حاضر هستيم تا در ظرف يکسال توليد مواد مخدر را در تمام کشور پايان بخشيم.

محترم مولوي عبدالحکيم مجاهد در قسمت ديگر از سخنان شان گفتند: ما مطابق خواسته هاي ملت مسلمان افغانستان عمل خواهيم نمود زيرا آنها براي ما خيلي قابل قدر مي باشند.

موصوف در اخير علاوه نمودند: که در جهان غرب از مسئله زنان افغان اشتباهات غلط گرفته ميشود در افغانستان براي زنان همچو مردان همه حقوق شرعي و ملي شان داده شده است آنها نصف نفوس کشور ما را تشکيل داده و در بخش هاي مختلف مصروف خدمت مي باشند. در اين راستا پروپاگند غربي ها کاملاً غلط و بي اساس ميباشد.

سلطه يک صد ساله ايالات متحده امريکا ...

جيمي کارتر رئيس جمهور سابق ايالات متحده امريکا که در سال ۱۹۷۷ پيمان واگذاري کنترول کانال پانامه و منطقه اطراف آن را به دولت پانامه امضاً کرده بود امروز در اين مراسم شرکت خواهد کرد.

پيشتر گفته شده بود که بل- کلنتن رئيس جمهور ايالات متحده امريکا در اين مراسم شرکت خواهد کرد اما چند روز پيش مقامات آنکشور از عدم شرکت وي در مراسم مذکور خبر دادند.

همچنين مادلين البرايت وزير خارجه ايالات متحده امريکا که امروز در مراسم پايان سلطه اينکشور بر کانال پانامه شرکت کند از حضور در اين مراسم خود داري کرده است.

کانال پانامه که در سال ۱۹۰٤ و بطول هفتادو پنج کيلو متر حفر گرديدبحر الکاهل را با بحر اطلس وصل ميکند.

د اروپا د امنيت او همکاري سازمان رئيس داغستان ته ورسيد

د اروپا د امنيت او همکاري د سازمان رئيس پرون د چيچن ګاونډي جمهوريت داغستان ته ورسيد.

د اروپا د امنيت او همکاري د سازمان رئيس به په داغستان کي د خپلي استوګني په دوران کي د چيچن له هغو مهاجرينو سره په دغه هيواد کي وګوري چې د روسيې پوځونو د وحشيانه بريدونو له امله يې کورونه ويجاړ او تيښتي ته اړ شويدي.

دستگاه کوره بخار ...

بخار مربوط دستگاه متذکره که از مدت ۹ سال به اينطرف نسبت نبودن پرزه جات مورد ضرورت غير فعال بوده با استفاده از پرزه جات داغمه مجدداً ترميم و مورد بهره برداري قرار گرفت.

مشکلات و پرابلم هاي ...

امور فرهنگي و صحي در مدارس مراکز صحي و همچنان اعمار سرکها بحث صورت گرفته تصاميم لازم اتخاذ گرديد.

در پايان جلسه محترم مولوي فضل الربي مظهري يکتن از متنفذين آنولسوالي به نماينده گي از مردم وعده سپرد تا به خاطر تحقق اهداف امارت اسلامي و عملي شدن برنامه هاي فرهنگي، صحي و ساختماني سهم ارزنده يي بگيرند.

تيم فوتبال استقلال ...

ميهن گرديد.

همچنان تيم فوتبال استقلال پلخمري حايز مقام دوم تيم فوتبال افتخار ميهن مقام سوم و تيم فوتبال توحيد مقام چهارم را کسب نمودند هکذا تيم واليبال منتخب ورزشي دوشي مقام دوم و تيم خيبر بغلان جديد حايز مقام سوم گرديد.

په روسيه کي يو قوي بم ...

ددغه خبر له مخي ددغه بم د چاودني له امله چې د يوه اپارتمان د اوم پوړ په يوه لفت کي وچاوديد د څو ودانيو ديوالونه ونړيدل.

د چيچن اتلو مجاهدينو ...

په عين حال کي د روسيې برغلګرو ځواکونو ادعا کړيده چې د چيچن د پايتخت ګروژني ښار په شل کيلو متري کي د شالي ښار ته رسيدلي دي.

د فرانسوي خبري آژانس د روسيې د يو پوځي مقام له خولي خبر ورکړ چې د روسيې برغلګرو او بيرحمو ځواکونو د ګروژني شمال لويديځ ته نژدې يوه سيمه نيولي ده او په ګروژني باندې د وروستي بريد لپاره تيار دي.

د روسيې دغه وحشيانه بريدونه له سختو نړيوالو انتقادونو سره مخامخ شويدي خو روسان په پوره بيشرمي سره د چيچن د بې دفاع خلکو په خلاف خپلو بريدونو ته دوام ورکوي.

په هند کي هر کال ...

لاپسي خپور شي.

هندي خبرځايو، ددغو ځان وژنو علت په دغه هيواد کي بې وزلي وزګارتيا بې سوادي او نژادي توپير بولي.

په ايران کي کابو ...

مظاهره کوونکو ددغو مظاهرو په ترڅ کي د عبدالله نوري د خلاصون غوښتنه وکړه.

د دريمو مکرو ريانونو ...

زياته يې کړه: د نوموړي ترافيکي جزيري د ساختماني چارې د کابل ښاروالي د ساختماني تصدي له خوا له عادي بودجې نه په استفادې سره پيل او اوس هم دوام لري. په نوموړي جزيره کي فواره لرونکي حوض، شين چمن او ګلدانونه شامل دي.

نوموړي زياته کړه: زموږ ۲۷ تنه اجيران هره ورځ د سهار له ۸ بجو نه د مازديګر تر څلورو بجو پورې په دغه جزيره باندې کار کوي ددغې جزيرې ساختماني چارې په سلو کې اتيا سر ته رسيدلي او په نږدي راتلونکي کي به پاې ته ورسول شي. البته ددې ترافيکي جزيرې په جوړيدو سره به سيمې ته ځانګړې ښکلا او زينت ورويخښل شي.

سيد يوسف

د عامې روغتيا وزارت ...

څارمن محمد عمر زموږ خبريال ته څرګند او زياته يې کړه: ددغې غرفې د جوړولو کار يوه اووني مخکې د ترافيکو د عمومي رياست په مالي لګښت د بنايي ساختماني دستګاه له خوا په پاخه او اساسي ډول پيل او ۹۵ فيصده په مخ تللې او په ډير نږدې راتلونکي کې به تر سره اؤ د استفادې [illegible] وګرځي.

مشکلات و پرابلم هاي موسسات

رشد اقتصاد بازسازي و احياي مجدد فابريکات کشور توجه مسؤولين را معطوف داشته از آنان خواست تا با درك شرايط و اوضاع کنوني از هيچگونه سعي و تلاش دريغ نورزند بعداً محترم غلام نبي الله دادخيل رئيس تصدي کود و برق در رابطه به مشکلات و پرابلم هاي موجود در پروژه ها و تصدي هاي مربوط صحبت نموده زمينه ها و راه هاي حل آنرا بيان داشت سپس رؤساي مؤسسات متذکره بالترتيب در مورد تحقق بخشيدن اهداف امارت- اسلامي ارتقاي سطح توليد بي برد و اجراي به موقع وظايف محوله آماده گي نشان داده و تعهد سپردند که وظايف محوله را به وجه احسن انجام دهند.

مؤسسات و پروژه هاي اقتصادي سمت شمال کشور که از اهميت ويژه اقتصادي برخوردار ميباشد بعد از استقرار امارت اسلامي احياي مجدد گرديده و در تسريع فعاليت هاي اقتصادي آن افزايش قابل ملاحظه يي بعمل آمده است.

در اخير جلسه مشکلات و پرابلم هاي موجود و بهبود سطح زنده- گي کارمندان و کارگران مورد ارزيابي قرار گرفته تصاميم و فيصله هاي سودمند و مؤثر اتخاذ گرديد.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ مياشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

تبصره

د روژې بختوره مياشت او د شتمنو ذمه واري

روژه د اسلام د پنځو ارکانو له جملې څخه يو داسې مهم رکن دی چې د مسلمانانو په اخلاقي او سلوکي روزنه کې خورا ستر رول لري هسې خو د الله تعالی په ټولو اوامرو کې بې شماره دنيوي او اخروي ګټې او حکمتونه نغښتي دي چې تر ډيرې اندازې زموږ د عقل او شعور په سيمه کې هم را څرګنديږي او کومه برخه يې چې زموږ د پوهې له پولو ور اوښتې ده نو خدای ښه پوهيږي چې لا نورې به څومره ګټې او حکمتونه پکې پراته وي، خو په دې لړ کې د روژې اخلاقي درسونه، بيخي ښه څرګند او روښانه ليدل کيږي، نو که يواځې د روژې پر همدې يوه اړخ تمرکز وکړو، چې هغه «لوږه» ده، نو ګورو چې دا د خوارانو، عاجزانو او بې وزلو خلکو په حال د خبريدو څومره يوه ښه لاره ده څکه څرګنده خبره ده چې تر څو د سړي په خپل سر کومه ستونزه نه وي راغلې تر هغې يې پر دردونو او سختوالي سړی نه پوهيږي په دې هکله دا متل چې «مور د ورې له حاله څه خبر دی» بالکل يوه اساسي قاعده ده.

نو بې شکه همدا روژه ده چې سړي ته د لوږې زور ورښيي او هر مسلمان د خپل چاپيريال ټول بې وزله وګړي وريا دوي او يو مسلمان بنده دې خبرې ته هڅوي چې ښايي خپل وس د مسکينانو او عاجزانو څخه ونه سپموي او تر ډيره يې مرسته او ملګرتيا وکړي د خدای پاک په لارکې د خپلې شتمنۍ لګول خو په اسلام کې هسې هم يو لوی ځانګړی مقام لري چې د قرآن مجيد ډير آيتونه په دې اړه نازل شوي او مسلمانان يې دې ته هڅولي چې تل د خدای د رضا لپاره خپل مالونه ولګوي او په بدله کې يې د الله رضا ديدار او جنت ځان ته واخلي، خو په دغه مبارکه مياشت کې يې ځانګړتيا لا نوره هم زياتيږي څکه چې په دغه مياشت کې د هر نيک عمل ثواب څو چنده زيات ورکول کيږي او د لوی خدای «ج» په دربار کې د قبليدو ډير چانس لري. د حضرت پيغمبر عليه السلام نه روايت شوی چې دی مبارک خو هسې هم تل ډير سخي او جواد و خو په ځانګړي توګه به په روژه کې د يو روان شمال په شان [illegible] يعني ښيګڼه او سخاوت به يې هر چا ته رسيده په يو بل حديث کې هم د پيغمبر عليه السلام نه روايت شوی چې ويلي يې دي روژه د عاجزانو او مسکينانو سره د خواخوږۍ مياشت ده همدارنګه د روژې په وروستيو شپو کې د فطر صدقه هم ددې لړۍ يوه مهمه وجيبه ده چې مسلمانان بايد ورته متوجه وي د روژې په ورځو کې مسلمانان خير او ښيګڼې ته دومره تشويق کړای شوي چې يو روژتي ته د يو غوړپ اوبو او يوه مړۍ خوړو ورکولو هم ډير ثواب او فضيلت راغلی دی.

نو په يو داسې وخت کې چې له يوې خوا د رمضان مبارکه مياشت وي، له بلې خوا د ژمي سخت ساړه او له بلې خوا هيواد شل کلنو جګړو ځپلی او د خوراکي توکو د ډير کمښت او ګرانۍ سره مخامخ وي، پر يو داسې وخت کې به د خير ښيګڼې څومره ثوابونه وي، لوی خدای «ج» به څومره بدلې ورکړي، د فردوس [illegible] مانۍ ګانې به څومره ورته ښکلې کړای شي د کوثر د خوږو اوبو څومره [illegible] به ورته ډک او د «ريان» دروازه به څومره مخکې لا ورته پرانيستې وي.

نو ای د خدای «ج» د رضا لټوونکو او ای د جنت د پريمانه [illegible] شوقيانو راشئ او دا زرينه موقع له لاسه مه ورکوئ.

دا چې تاسو هر ماښام ځان ته لس رنګه خوندور خوراړه [illegible] کړئ او د ډول ډول شيانو څخه خوند اخلئ لږ هغه بې چاره ګان هم د ريا دکړئ چې [illegible] يې په سخته يخنۍ کې په تشو کولمو خواري مزدوري کړي او ماښام بيا په [illegible] او تريخ چای د مړيدو وس هم نه لري خونه يې سړه چرګې يې سپيره او څراغ [illegible] يې مړه يه تورتم کې ناست دي.

نو ای شتمنو مسلمانانو لوی خدای «ج» دی دغسې [illegible] زړونه درکړي چې ددې کړيدلي ولس بې وزلان او مسکينان، وږي او رنځوران [illegible] څخه هر [illegible] شي او د خپل د ستر خان په حوا ږوکي ددې هم درسره شريک کړي.

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirat of Afghanistan

Chief Editor: Abdurrahim Saqeb

Printed by: Emirat Printing Press